شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

گرانو هیواد والو !

د وخت په دې حساس پړاو کې ستاسې پر وخت او زمان د مالیې ورکړه هیواد له اقتصادي ناورین څخه ژغورلای سي.

امارت اسلامی افغانستان

پنجشنبه |د ذوالحجه ۱۸-۱۴۴۴/د چنگاښ ۱۵-۱۴۰۲/د جولای ۶-۲۰۲۳/دوهم کال / ۵۵ گڼه/ ٤ مخیز



## سرمقاله

### تاثیرات خشکسالی بر اقتصاد کشور

سکتور زراعت با خشکسالی نهایت حساس بوده که آنرا می توان پدیده آرام و نهایت خطرناك نامید. این پدیده خسارات بسیار زیاد و جبران ناپذیری را به طبیعت وارد می کند و میتواند تمامی اقلیم ها را تحت تاثیر خویش قرار دهد. در کشوری که اقتصاد جامعه آن متکی بر زراعت و مالداری باشد اثرات غیر مستقیم خشکسالی به دلیل کاهش سطح زیر کشت و عملکرد محصولات در قالب کاهش تولید مواد غذایی بروز مینماید و در پهلوی آن کاهش میزان اشتغال و کاهش در سطح درآمد از جمله اثرات مستقیم خشکسالی در این گونه کشور ها محسوب میشود. کاهش در تولید مواد غذایی به صورت غیر طبیعی میتواند منجر به افزایش قیمت در مواد غذایی و عدم دسترسی به شغل مناسب و در برخی مواقع باعث افزایش بیکاری در یک کشور می شود. همچنان خشکسالی های متوسط تا شدید می تواند بر رشد سرانه تولید ناخالص داخلی صدمه جدی وارد نماید و کشور های با در آمد کم و متوسط در مناطق خشک بیشترین تلفات نسبی را از این ناحیه متحمل گردند. با درك این واقعیت که افغانستان یك کشور زراعتی و بیشتر مردم این کشور مصروف زراعت و مالداری بوده و اقتصاد آن متکی به زراعت می باشد ولی متأسفانه بر اثر خشکسالی، بزرگترین چالش موجود فراروی زراعت طی سالهای اخیر مردم از این ناحیه بیشترین آسیب را دیده و با مشکلات نهایت جدی اقتصادی مواجه گردیده اند، چون بخش اعظم تولیدات زارعتی کشور متکی به آب بوده و می توان آب را اساسی ترین فکتور در تولید زراعت افغانستان نامید. از آنجایکه اکثریت نفوس این کشور همچنان از طریق زراعت و مالداری معیشت زندگی خویش را تهیه می نمایند و قرار گزارش اداره همکاری بین المللی امریکا در حال حاضر نزدیك به ۸۰ فیصد مردم افغانستان به زراعت و مالداری مشغول می باشند. می توان گفت زراعت در ساختار اقتصادی جامعه افغانی از اهمیت خاصی برخوردار بوده و از مهم ترین بخش اقتصاد این کشور می باشد. فلهذا تنها با توسعه بخش زراعت می توان به رشد و توسعه اقتصادی در افغانستان دست یافت. بر همین اساس امارت اسلامی افغانستان با درك این موضوع حساس و اراده راسخ برای رفع مشکلات موجود، رشد اقتصادی و شکوفایی کشور و از طریق آن خدمت به مردم، در حال تطبیق چندین پروژه بزرگ ملی از جمله پروژه انتقال آب «کانال قوش تیپه» یکی از بزرگترین پروژه های زیربنایی می باشد که با اکمال آن حدود (۵۵۰) هزار هکتار زمین زراعتی تحت آبیاری قرار گرفته و زمینه کار را برای هزاران خانواده فراهم می سازد. با تکمیل این پروژه، تحولات چشمگیری در زراعت و اقتصاد کشور به وجود خواهد آمد.

**بااحترام**

**اداره**

# د ډبرو سکرو د گمرکي محصول د کمښت په اړه د مالیې وزارت خبرتیا



د هیواد د صادراتو د ودې او همدارنگه د پانگوالو او سوداگرو د لا هڅوني په موخه د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ د حکم او د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې پر بنسټ، له هیواد څخه صادرېدونکو ډبرو سکرو، په فی ټن گمرکي محصول کې (۱۵) ډالر او د في ټن د رویالټي په قیمت کې (۵) ډالر چې په ټوله کې (۲۰) ډالر کېږي، کموالی راغلی. دا پرېکړه (۳۱/۳/۱۴۰۲) څخه د هیواد په ټولو گمرکونو کې د پلي کېدو وړ ده. د یادوني وړ ده چې په نړیوال بازار کې د ډبرو سکرو د نرخونو په لوړوالي سره به په یادو نرخونو بیا کتنه کېږي.

## په میدان وردگو ولایت کې د ډبرو سکرو لپاره د یوه ملي مارکېټ جوړولو چاري پیل سوې

د میدان وردگو ولایت د مرکز میدان ښار اړونـد (کوټـه عـشرو) سیمه کې د مالیې وزارت اړونـد د ملي پراختیا شرکت له لوري د ډبرو سکرو د پروسس یو ملي معیاري مرکز د جوړولو چارې پیل سوې. په همدې موخه جوړه سوې غونډه کې د مالیې وزارت د ملي پراختیا شرکت مسؤلینو، د میدان وردگو ولایت ځایي مسؤلینو، د دې ولایت دیني علماوو او ولسونو گډون کړی وو. د ملي پراختیا شرکت مالي او اداري مرستیال مولوي عبدالولي عادل وویل، چې پر هیواد داسلامي امارت له بیا حاکمیت سره، پراختیایي پروژو ته ځانگړې پاملرنه سوې او د پروژو مالي تمویل هم له خپلي ملي بودیجې څخه پوره کېږي. ښاغلي عادل زیاته کړه، چې اسلامي امارت د هیواد د اقتصادي ځانبسیاینې لپاره د موجودو اقتصادي سرچینو څخه په ښې گټې اخیستني سره، د سترو ملي اقتصادي پروژو پلي کولو ته پوره ژمنتیا لري. د میدان وردگو ولایت والي قاري بختیار معاذ، د ډبرو سکرو یاده پروژه یوه ملي پروژه یاده کړه او وئې ویل، چې له دې سره به زیات شمېر هیوادوالو ته د کار زمینه برابره سي او ورسره به په میدان وردگو ولایت کې په بېلابېلو برخو کې د رغوني چارې ترسره سي. حاجي غیاث الدین رښتین د میدان وردگو ولایت د ولسونو په استازولي خبري وکړې او د دې ستري پروژې د پرانیستلو له امله ئې د اسلامي امارت له مسؤلینو څخه مننه وکړه. ښاغلي رښتین د ولسونو په استازولی د دې ملي پروژې څخه د هر اړخیز ملاتړ او داډ څرگندولو ترڅنگ وویل، چې ولس د پروژې د عملي کېدلو په برخه کې هر ډول همکاریو ته چمتو دئ. د یادوني وړ ده، چې دغه ملي مرکز په (۷۰۰) جریبه ځمکه کې په ملي او نړیوالو معیارونو برابر رغول کېږي، چې د بلخآب د ډبرو سکاره به دلته له پروسس او بسته بندۍ وروسته، بهرنیو هیوادونو ته لېږدول کېږي.

## د سپین بولدک په سرحدي گمرک کې د المونیمي خښتو له قاچاق څخه مخنیوی وسو



د سپین بولدك سرحدي گمرك منسوبینو تېره ورځ په یوې صادراتي محموله کې د (٦٥) المونیمي خښتو چې مجموعي وزن یې (۲.۳) دوه عشاریه درې ټنه کیږي، له قاچاق څخه مخنیوی وکړ. ذکر سوي المونیمي خښتي چې په ډېر مهارت سره د بار وړونکي موټر د تیلو په ټانکۍ کې ځای پر ځای سوي وې، غوښتل ئې پاکستان هیواد ته ئې قاچاق کړي. د یادوني وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ په هدایت له صنعتي فابریکو څخه د ملاتړ په موخه له هیواد څخه د هر ډول اوسپنو، المونیمو او داسي نورو فلزاتو، چې په کورنیو فابریکو کې ترې کار اخیستل کیږي، صادرول ئې په مطلق ډول بند دي.



د پکتیا په گمرک کې د درملو د قاچاق مخنیوی وسو

م ۲



د کورنۍ پلټنې لوی رئیس او ورسره مل پلاوي ننگرهار ولایت ته سفر وکړ

م ۲



جلوگیری از قاچاق پرزه جات اسلحه در گمرک تورخم

م ۲



په افغانستان کې د بېکارۍ علتونه، آغېزې او حل لارې!


م ۳




امارت اسلامی افغانستان
وزارت امور خارجه

د مالیې او بهرنیو چارو وزیرانو د خوندي اسنادو د چاپ له مطبوعې څخه لیدنه وکړه

م ۴



اعضای رهبری ریاست عمومی عواید با مسؤلین وزارت صنعت و تجارت دیدار کردند

م ۲


# د پکتیا په ګمرک کې د درملو د قاچاق مخنیوی وسو



د پکتیا ګمرك د تشریح برخې مسؤلینو د پرچون توکو په یوې وارداتي محموله کې (۳۰) کارټنه طبي درمل، چې په ماهرانه ډول ځای پر ځای سوي وه او قاچاق وړونکي غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول هیواد ته را وارد کړي کشف او ونیول. د یادوني وړ ده، چې له دې وړاندي هم د هیواد په ګمرکونو کې د بېلابېلو قاچاقي او ممنوعه توکو د واردولو او صادرولو مخه نیول سوې او په پېښه کې تورن کسان اړوندو قضایي او عدلي ادارو ته سپارل سوي دي.

## په مالیې وزارت کې د شپږو قراردادي (NTA) بستونو ازموینه واخیستل سوه

د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست د ۱۴۰۲ هـ ل کال د غبرګولي په ۳۰مه نېټه د دولتي شرکتونو لپاره د ۴ قراردادي بستونو (سوداګریز حقوقي ستر کارپوه، د سوداګرۍ د څېړني او پراختیا کارپوه، د عامه خصوصي مشارکت کارپوه او د ستراتیژیك او سوداګریز پلان د تحلیل او ارزوني کارپوه) او د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو ریاست د ۲ قراردادي بستونو (د پالیسۍ او مالیاتو د تحلیل کارپوه) ازموینه د آزادي سیالۍ له لاري واخیسته. دغه آزموینه د مالیې وزارت مالي او اداري لوی رئیس بلال احمد قریشي، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر، د اړیکو او



عامه پوهاوي رئیس احمد ولي حقمل او د دولتي شرکتونو سوداګریزي برخي د پانګوني د جلب آمر عبدالاحد احدي په حضور کي په شفاف ډول ترسره سوه، چي (۴۹) کسانو پکښي ګډون کړی وو. د یادونې وړ ده چي د مالیې وزارت مشرتابه د شایسته سالارۍ اصل ته ژمن دی او هڅه کوي چي په خپلو اړوندو ادارو کي مسلکي، ژمن او صادق کسان وګماري او د شفافیت اصل په پام کي ونیسي.

## د ولایتي عوایدو د پراختیا او همغږۍ رئیس د ولایتونو د مستوفیتونو له مسؤلینو سره پرلیکه غونډه وکړه

د مالیې وزات د عوایدو لوی ریاست د ولایتي عوایدو د پراختیا او همغږۍ رئیس انجینر عبدالله حیدري او د غیرمالیاتي عوایدو رئیس امان الله امین، د اقتصادي کمیسیون د لسمي ګڼي مصوبې د دویم بند د تطبیق په موخه د هرات، فراه، غزني، پکتیکا، پکتیا، جوزجان، لغمان او لوګر ولایتونو د مستوفیتونو له مسؤلینو سره پرلیکه (انلاین) غونډه وکړه. دغه پرلیکه غونډه، چي د (زوم کال) له لاري ترسره سوه، پکښي د اقتصادي کمیسیون د لسمي ګڼي مصوبې دویم بند، (چي پر بنسټ ئې د مالیې وزارت په مشرۍ د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د کانونو او پټرولیم وزارت او د خوړو او درملو ملي اداري ګډه کمېټه رامنځ ته سوې) په ځینو ولایتونو کي به د مالګي د فابریکو د تولید، ظرفیت او کیفیت ارزونه ترسره سي.



د عوایدو لوی ریاست مسؤلینو د پرلیکي غونډې له ګډونوالو څخه وغوښتل، چي په خپلو ولایتونو کي د مالګي د تولید د فابریکو او کارخونو مؤثریت او مثمریت په ډاګه کړي او د ارزوني له پاره ئې باید ګټور او اړین ګامونه پورته سي. د یادوني وړ ده، چي په همدې تړاو به د هیواد د ولایتونو له مستوفیتونو سره هم پرلیکه غونډې جوړې او ترسره سي.

## اعضای رهبری ریاست عمومی عواید با مسؤلین وزارت صنعت و تجارت دیدار کردند

اعضای رهبری ریاست عمومی عواید با مسؤلینو وزارت صنعت و تجارت در رابطه به مسایل مشترك بحث و تبادل نظر کردند. در این دیدار معراج محمد معراج معاون عملیاتی ریاست عمومی عواید، عبدالولی نوری معاون تخنیکی، امین الله امین رئیس عواید غیرمالیاتی و محمد جلال احمدزی رئیس سیستم ریاست عمومی عواید وزارت مالیه با محترم محمد زبیر دین‌پرور رئیس عمومی تجارت بین الملل و سایر رؤسا و مسئولین وزارت صنعت و تجارت نشست تدویر نمودند. در این دیدار روی ارائه گزارش میکانیزم تطبیق حکم شماره (۳۷۵۸) مؤرخ (۲۳/ ۱۰/ ۱۴۴۴)مقام عالی رهبری عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله، وصل کردن سیستم ها و ارائه گزارش شفافیت معلومات سیستم ها (Data Clean-Up) و پلان عملی انتقال پول پارك های صنعتی بحث و گفتگو صورت گرفت. قابل تذکر است که به منظور سهولت بیشتر در بخش سیستم ها به مراجعین از اغاز بعضی امور عملی تعهد داده شد.



## جلوگیری از قاچاق پرزه جات اسلحه در گمرک تورخم

منسوبین دلیر و مخلص گمرك تورخم طی یک عملیات کشفی در یک موتر بارбری پرزه جات اسلحه (M۱٦) که تعداد آن به (۱۲۸) عدد میرسید کشف وضبط کردند. این پرزه جات که به شکل ماهرانه جا سازی گردیده بود و شخص مظنون می خواست آنرا به کشور همسایه انتقال دهد، در نتیجه راننده موتر باز داشت گردیده و برای تحقیقات بیشتر به ارگان های مربوطه معرفی گردید.



## د کورنۍ پلټنې لوی رئیس او ورسره مل پلاوي ننګرهار ولایت ته سفر وکړ



د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رئیس ښاغلي انجنیر عبداللطیف خالد په مشرۍ یو پلاوی، چي د دې ریاست اړوند د عوایدو او ګمرکونو پلټنې رئیس ښاغلي مولوي فضل الرحمن فضلي ئې ملتیا کوله د چارو د هر اړخیزي ارزوني په موخه ننګرهار ولایت ته سفر وکړ او د دغه ولایت له مستوفیت، ګمرك ریاست او تورخم سرحدي ګمرك څخه ئې لیدنه وکړه. ښاغلي انجنیر عبداللطیف خالد د ننګرهار ولایت د مستوفیت له سرپرست ښاغلي مولوي اسدالله، د ننګرهار د ګمرك رئیس ښاغلي حاجي ابرار، کارکوونکو او د هري شعبې څخه په جلا توګه لیدنه وکړه، د پلټونکو له لوري د وروستیو پلټنو په ترڅ کي د ور کړل سوو سپارښتنو د تطبیق پوښتنه ئې وکړه او ټینګار ئې وکړ، چي د چارو د ښه والي او روڼتیا رامنځته کولو په موخه باید د پلټنې سپارښتنې په ټاکلي موده کي پلي سي. ښاغلي خالد په خپلو خبرو کي د پلټنې د اهمیت او اصلاحي سپارښتنو د ارزښت په اړه خبري وکړې او وړاندیز ئې وکړ، چي اداري دي د پلټنې سپارښتنو د ښه تطبیق په موخه ځانګړې کاري کمېټې رامنځته کړي؛ ترڅو په خپلو ادارو کي د سپارښتنو تطبیق او تعقیب په ګرنډي ډول ترسره او راپور ئې له مرکز سره شریك کړي. په پای کي د کورنۍ پلټنې لوی رئیس د یادو ادارو د مسؤلینو او کارکوونکو ستونزي او غوښتني واورېدې او ژمنه ئې وکړه، چي د وزارت له مشرتابه سره به ئې ډېر ژر شریکي کړي.

## رئیس دعوت و ارشاد وزارت مالیه با رئیس عمومی دعوت و ارشاد دیدار کرد




مولوی عبدالهادی سیف الخالد، رئیس دعوت و ارشاد وزارت مالیه با شیخ الحدیث مولوی محمد هاشم شهید ورور، رئیس عمومی دعوت و ارشاد، در ریاست عمومی دعوت و ارشاد دیدار کرد. در این دیدار در رابطه به مسائل چون؛ زمان شروع و ختم دروس، (۳۴) بست قراردادی ریاست متذکره و هماهنگی ریاست دعوت و ارشاد با ریاست امربالمعروف بخاطر پیشبرد کارها در ریاست املاك بحث و تبادل نظر صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ گردید. قابل یاد آوریست که ریاست دعوت و ارشاد به هدف بلند بردن سطح معلومات دینی کارمندان و نهادینه ساختن ارزش های دینی، رسیدگی به شکایات و جلوگیری از هر نوع تبعیض در ادارات دولتی ایجاد گردیده و برنامه های مختلفی را برای دستیابی به اهداف متذکره تطبیق نموده است.

شتمنى
SHTAMANAI
اوونيزه



# په افغانستان کي د بېکارۍ علتونه، آغېزې او حل لارې!

استاد عبدالجبار وحدت

بېکاري هغه حالت ته وايي، چې يو څوك د كار وړتيا او تقاضا ولري، مگر د اوونۍ په ډېرو ورځو كي بې كاره پاته سي، له ظرفيته ئې استفاده و نه سي، يا د ژوندانه د تېرولو لپاره د دندې نه شتون هم بېكاري بللى سو. كلاسيكان معمولاً په دې برخه كي په بازار كي د مجموعي عرضي (AS) او په مجموعي تقاضا (AD) تكيه لري، (كينز) په دې برخه كي د دولت مداخله د مالي او پولي سياستونو په بڼه اړينه بولي. د بېكارۍ ډېر زيات ډولونه موجود دي، چي د نمونې په ډول، پټه، ښكاره، اصطكاكي، جوړښتي، موسمي او داسي نور ډولونه يادولاى سو. معمولاً د دريمي نړۍ وگړي له بېكارۍ ډېر سر ټكوي او دا هيوادونه له دې ستر چلينج سره د پرمختللو هيوادونو په نسبت څو برابره لاس او گرېوان دي، همدا بېكاري د غربت سبب كېږي، همدغه وجه ده، چي دلته د ژوند سطحه هم خورا ټيټه ده او حتى وگړي ئې لومړنيو اړتياوو ته هم سم لاسرسى نه لري. افغانستان سره له دې، چي د يو داسي هيوادونو له جملې څخه دئ، پرېمانه طبيعي زېرمې او اوبه لري او د جيو اكانوميك، جيو پولوتيك او ستراتيژيك موقعيت څخه برخمن دئ، چي د وگړو په تناسب ئې دا هر څه كافي دي، هو چي استخراج او زراعت ئې په فني، تخصصي او مسلكي بڼه و اوسي، همدا رنگه افغانستان ډېر پخوا د لاسي صنايعو په برخه كي تاريخي مخينه درلوده، چي دا برخه هم ځانگړي پاملرني او پياوړتيا ته ضرورت لري. موږ د هيواد په داخل كي په بېلا بېلو دورو كي بېلا بېل نظامونه ازمايېلي لكه، د مختلط اقتصاد سيستم، چي فيوډالي سيستم هم ورسره ميكس وو په شاهي زمانه كي او د بازار اقتصاد په (۲۰۰۲) كال كي په داسي بڼه تطبيق سو، چي د آزاد بازار بڼه ئې خپله كړه. بېكاري، چي پايله ئې فقر دئ او خوږ پيغمبر رسول الله (ص) هم دعا كړې او پناه ئې تري غوښتې ده، همدغه وجه ده، چي د اسلام په اقتصادي نظام كي لومړيتوب بې روزگارو ته د كار موندل دي، د دې خبري مفهوم دا دئ، چي اسلامي نظام كارموندني ته په ځانگړي اهميت قايل دئ.

د بې روزگارۍ نرخ مالومولو لپاره لاندي فورمول كار وو:

د بې روزگارۍ نرخ= د بې روزگارو تعداد/ د كار قوه۱۰۰*

## په افغانستان كي د بېكارۍ علتونه

دلته لنډ په هغو مسائيلو بحث كوو، چي بېكاري ئې رامنځته كړې ده او گڼ شمېر ځوانان ئې پر كور باندې كښېنولي دي، چي عبارت دي له:

۱. پراخ نړيوال اقتصادي بنديزونه،ځكه هم ئې په داخل كي د كارموندني فرصتونه كم كړي، هم ئې د بهرنيو پانگوالو مخه نيولې او هم ئې په قانوني ډول د كاري قوې د صدور مخه نيولې ده.

۲. نا امني او په لسيزو لسيزو جگړې

۳. آن له پخوا د پياوړو اقتصادي ستراتيژيو نه موجوديت

٤. د عصري ټكنالوژۍ نه شتون

۵. دريو مهمو اقتصادي شريانونو كي ( صنعت، زراعت، او په خدماتي برخو كي پانگوني) كمښت



٦. د بېلا بېلو نړيوالو نادرستو اقتصادي نظامونو ( پانگوال، مختلط، سوسياليزم ) تطبيق

۷. د اساسي اقتصادي خطونو نه موجوديت

۸. بد رواني وضعيت، دا هغه څه دي چي پانگونه كموي او د اقتصادي وضعيت اړوند خوشبيني له منځه وړي.

۹. د افغاني اقتصادي موډل نه موجوديت هغه موډل چي (PESTEL) ته په كتو د تطبيق وړ وي.

۱۰. د بېلا بېلو هېوادونو د غير مؤثرو اقتصادي موډلونو تطبيق

۱۱. د رسمي اقتصاد پر ځاى د سيوري لرونكي اقتصاد شتون

۱۲. رواني ډول تشويشونه او نا انډولي

۱۳. د عوايدو غير عادلانه وېش

## د بېكارۍ آغېزې

بېكاري له ځان سره نهايت زياتي آغېزې لرلى سي، چي د ځينو هغو يادونه به دلته په لنډو ټكو كي وكړو:

۱. فردي آغېزې: وزگارتيا په لوړه كچه فردي اثرات لري، دوى د ورځنيو اړتياوو د پوره كولو لپاره مالي توان نه لري او حتماً به پوروړى كېږي.

۲. ټولنيزي او سياسي آغېزې: زياتره اروپايي هيوادونو كي (۱۹۷۹) كال څېړني دا په گوته كړي، چي د وزگارو خلكو په هر (۱۰٪) زياتوالي سره د مجموعي ټولنيزو ستونزو په برخه كي (۲۱٪) سلنه زياتوالى، د زړه په ناروغيو كي (۳٪) زياتوالى، په ځان وژنو كي (۱.۷٪) زياتوالى او د غلا په جرايمو كي (۴.۸٪) زياتوالى راځي

۳. د (اوكن) قانون له مخي، هر كله چي وزگارتيا يو فيصد كمه سي (GDP) كي (۳٪) زياتوالى راځي او هركله چي وزگارتيا يو فيصد زياته سي؛ نو GDP كي (۲٪) كموالى راځي.

٤. غربت رامنځته كوي.

۵. بې ارزښتي رامنځته كوي.

٦. افراد ياد كړي مهارتونه له لاسه وركوي.

۷. د مادي امكاناتو او سهولتونو څخه محروميت رامنځته كوي.

۸. رواني ستونزي رامنځته كوي.

۹. كورنۍ او ټولنيزي ستونزي او شخړي راولاړوي.

۱۰. د كورنيو د بېلتون باعث گرځي

۱۱. اشخاص د اړتياوو د پوره كولو لپاره بېلابېلو جرمونو ته مخه كوي.

۱۲. اعتياد رامنځته كېږي.

۱۳. هيواد او شخص وروسته پاتي كېږي.

۱٤. او دې ورته لسگونه نور اثرات لرلى سي.

## حل لارې ئې:

۱. اسلامي امارت نظام ته بويه، چي په دې برخه كي د بېلا بېلو اقتصادي سياستونو څخه په ځانگړي ډول د استخدام له مختلفو سياستونو څخه گټه پورته كړي.

۲. هيواد ته د بهرنۍ پانگوني جذب.

۳. د مؤثرو اقتصادي سياستونو تطبيق.

٤. د معادنونو مؤثر استخراج.

۵. د اوبو مديريت .

٦. د زراعت له وزارت سره په شريك تفاهم د هيواد شاړي ځمكي هيوادوالو ته په اجاره وركول.

۷. د كار جوازونو په برخه كي د اسانتياوو رامنځته كول.

۸. د مالي ، پولي، او استخدام سياستونو تطبيق.

۹. مركزي بانك بايد په دې برخه كي فوق العاده رول ولوبوي.

۱۰. د عوضي اجناسو په وارداتو لوړه گمركي تعرفه وضع كول ، تر څو داخل كي توليد ته زمينه سازي وسي.

۱۱. سبسايډي او توليدي فابريكو ته مالياتي معافيتونه.

۱۲. د وارداتوعوضي سياست تطبيق

۱۳. واړه تشبثات رامنځته كول.

۱٤. د انټي ډامپينگ سياست تطبيق.

۱۵. د داخلي توليد څخه د حمايوي سياست تطبيق.

۱٦. د كار په بازار كي د كار عرضې رامنځته كول.

۱۷. د كاري بازار دفعال سياست تطبيق.

۱۸. د حقيقي دستمزد لوړول او په اسمي دستمزدونو كي كموالى راوستل، تر څو ډېر ځوانان استخدام سي.

۱۹. اقتصادي ثبات رامنځته كول.

۲۰. له هيواده بهر كارگرانوته دكار سهولتونه برابرول.

۲۱. د كار قانون اصلاح كول او د كارمندانو لپاره مناسب شرايط ټاكل او د ياد قانون څخه د پيچلتيا ليري كول.

۲۲. په مسلكي او فني برخه كي لا ډېره پانگونه كول.

۲۳. د عوايدو عادلانه وېش هم نسبي ستونزه حلولى سي.


# اعلانات داوطلبى

### د بلخ ولايت د حيرتان گمرك د پاركينگ رغوني پروژه

پنجشنبه ۱/۴/۱۴۰۲

د ماليې وزارت د ټولو داوطلبانو څخه چې په شرايطو برابر وي غوښتنه كوي تر څو د بلخ ولايت د حيرتان گمرك د پاركينگ رغوني پروژه كې گډون وكړي او اړونده شرطپانه د تداركاتو مشاوريت څخه په ميموري يا فلش ډسك كې تر لاسه كړي، خپل افرونه د شرطپاڼې د مندرجاتو مطابق او د تداركاتو د قانون او كړنلارې په رڼا كې ترتيب او په سرپوښلي ډول يې د اعلان د خپريدو له نيټې څخه د ۲٦ چنگاښ ۱۴۰۲ نيټې د ماسپښين تر ۲:۰۰ بجو پورې په دويمه ناحيه، پښتونستان واټ كې د ماليې وزارت د تداركاتو رياست ته وړاندې كړي، انټرنټي او ناوخته رسيدلي افرونه د منلو وړ ندي. د داوطلبۍ څخه وړاندې غونډه د ۱۴۰۲/۴/۲۰ نيټې د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د اداري معينيت ودانۍ په دويم پوړ كې د تداركاتو په آمريت كې په لاره اچول كيږي. د افر تضمين د بانكي تضمين په ډول ۱,۲۰۰,۰۰۰ يو ميليون او دوه سوه زره افغانۍ دى او د افر پرانيستني غونډه د ۲٦/چنگاښ/۱۴۰۲ نيټې د ماسپښين په ۲:۰۰ بجو د تداركاتو آمريت كې په لاره اچول كيږي.

دوشنبه ۲٦/۴/۱۴۰۲

### تدارک ۹۸ پايه دستگاه حاضرى الكترونيكى رياست عمومى خزاين

چهارشنبه ۳۱/۳/۱۴۰۲

وزارت ماليه امارت اسلامى افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرايط دعوت مينمايد تادر داوطلبى پروژهء(تدارك ۹۸ پايه دستگاه حاضرى الكترونيكى رياست عمومى خزاين) داراى نمبر تشخيصيه ۰۱۳-G/۱٤۰۲/MOF كه به روش داوطلبى باز داخلى صورت ميگيرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و درى ذريعهء فلش ميمورى از آدرس ذيل مطابق شرايط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تداركات عامه اجراء ميگردد بدست آرند.

تاريخ مشخص آفرگشايى: تاريخ ۲٤/ سرطان/۱٤۰۲ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر ميباشد.

تضمين آفر : به مبلغ ۹۰,۰۰۰ (نود هزار) افغانى صرف تضمين بانكى ميباشد.

آدرس:وزارت ماليه چهارراهى پشتونستان – رياست تداركات،مشاوريت تداركات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۵۸۴

شنبه ۲۴/۴/۱۴۰۲

### تدارك وسايل برقى و رنگمالى رياست خدمات ماليه دهندگان

دوشنبه ۵/۴/۱۴۰۲

وزارت ماليه امارت اسلامى افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرايط دعوت مينمايد تادر داوطلبى پروژهء(تدارك وسايل برقى و رنگمالى رياست خدمات ماليه دهندگان) داراى نمبر تشخيصيه ۰۲۸-G/۱٤۰۲/MOF كه به روش داوطلبى باز داخلى صورت ميگيرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و درى ذريعهء فلش ميمورى از آدرس ذيل مطابق شرايط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تداركات عامه اجراء ميگردد بدست آرند.

تاريخ مشخص آفرگشايى: تاريخ ۲۷/ سرطان/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر ميباشد.

تضمين آفر : به مبلغ ۲۰,۰۰۰ (بيست هزار) افغانى ميباشد.

آدرس:وزارت ماليه چهارراهى پشتونستان – رياست تداركات،مشاوريت تداركات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

سه‌شنبه ۲۷/۴/۱۴۰۲

شتمنۍ SHTAMANAI
اوونيزه

د امتياز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: حبيب الله خُبيب
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبپاڼه: mof.gov.a
ټويټر: @ afghanistanmof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)



## د ماليې او بهرنيو چارو وزيرانو د خوندي اسنادو د چاپ له مطبوعې څخه ليدنه وکړه




د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخند، د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي، د ماليې وزارت مالي معين حاجي عبدالقدير احمد او د يادو وزارتونو يو شمېر رئيسانو د ماليې وزارت اړوند د خوندي اسنادو د چاپ له مطبوعې څخه ليدنه وکړه.

د ماليې او بهرنيو چارو وزيرانو او مسؤلينو د خوندي اسنادو د چاپ، دولتي مطبوعې (شرکت) له بېلابېلو برخو؛ د پرمختللو چاپي دستګاوو، عصري سيستمونو، ماشينونو او مهمو وسايلو څخه ليدنه وکړه او د ياد شرکت د ظرفيت لوړولو په برخه کي ئي د هر ډول ملاتړ بشپړ ډاډ څرګند کړ.


د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت اړوند د خوندي اسنادو د چاپ دولتي شرکت د هيواد په کچه يو پېژندل سوی او په عصري پرمختللو چاپي وسايلو سمبال شرکت دئ، چي د ارزښت لرونکو (بهاداره) سندونو د چاپ په برخه کي فعاليت کوي.

## Acting Ministers of Finance and Foreign Affairs visited secure documents printing press

Acting Minister of Finance (MoF) Alhaji Mullah Muhammad Naser Akhund, Acting Minister of Foreign Affairs (MoFA) Maulawi Amir Khan Muttaqi, Financial Deputy Minister of (MoF) Haji Abdul Qadir Ahmed and some other directors of the mentioned ministries visited the printing press of the secured documents related to the (MoF). Acting Ministers and officials of the (MoF) and (MoFA) visited various departments of the state-owned printing press (corporation) of secure documents, advanced printing devices, modern systems, machinery and equipment, and assured the corporation of all kinds of full support as part of increasing its capacity.
It is worth mentioning that the state-owned-printing press for the printing of secure documents of the (MoF) is a well-known equipped corporation with modern and advanced printing equipment in the country, which operates in the field of printing valuable secure documents.

## Construction of a national market for coal has started in Maidan Wardag province

The construction of a national standard coal processing center has been started by the National Development Corporation of the Ministry of Finance (MoF) in the area of Kota Ashro, the center of Maidan Wardag province. Officials of the National Development Corporation of the MoF, local officials of Maidan Wardag province, religious scholars and people of mentioned province participated in the meeting organized for this purpose. Maulawi Abdul Wali Adel, Financial and Administrative Assistant of the National Development Corporation, said that with the re-establishment of the Islamic Emirate (IEA) in the country, special attention has been paid to the development projects and the financing of the projects is also completed from the national budget. Honorable Adel added that the IEA is fully committed to the implementation of major national economic projects by making good use of the available economic resources for the economic self-sufficiency of the country. Qari Bakhtiar Muaaz, the governor of Maidan Wardag province, named the coal project as a national project and said that it will provide employment to a large number of citizens and different parts of Maidan Wardag province will be reconstructed with the commence of mentioned project. Haji Ghiyasuddin Rishtin spoke on behalf of the people of Maidan Wardag province and thanked the officials of the IEA for opening this great project. As a representative of the people, Mr. Rishtin expressed full support and assurance of this national project and said that the people are ready for any kind of cooperation in the implementation of the project.
It is worth mentioning that this national center is being built on 700 acres (Jiribs) of land according to national and international standards, and after processing and packaging the coal of Balkhab, it will be exported to foreign countries.



## The Custom duty on coal has been decreased

Based on the order of the leadership of the Islamic Emirate of Afghanistan (IEA) and the decision of the Economic Commission, to increase the country's exports and encourage businessmen, the customs duty per ton decreased by 15 US dollars and the royalties per ton decreased by 5 US dollars, which is 20 US dollars in total.
This decision is applicable in all customs offices of the country from 21 Jun 2023.
It is worth mentioning that with the rise of coal prices in the international market, these prices will be revised.

